مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۲/۲۲

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
## (اتمه برخه)

### شاه جان غني احمدزی

د جنرال عبدالغني احمدزي زوی، په ۱۹۲۸ز کال کې د لوګر په سرخآب کې زېږېدلی دئ. د حبیبیې د لیسې فارغ. په بېلابېلو مقامونو کې ئې کار کړی دئ : له ۱۹۴۵ – ۱۹۶۶ زکال پورې ملي بانک، له ۱۹۶۶ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د ترانسپورت رئیس؛ له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۸ز کال پورې ئې سوداګري یا تجارت کاوۀ. کله چې خلقیانو واکمني ونیوله دی ئې د دۀ اکا له زوی جنرال شاه پور احمدزي او د کورنۍ له نورو غړو سره په ۱۹۷۸ز کال کې زنداني کړ. په ۱۹۸۰ز کال کې له زندانه آزاد سو او تر اوسه په کابل کې ژوند کوي. مورنۍ ژبه ئې پښتو ده.

### ډګر جنرال شاه پور احمدزی

د ۱۹۲۵ز کال په شاو خواوو کې د لوګر په سرخآب کې زېږېدلی دئ؛ ددوی کورنۍ د لوګر د سرخاب د غلزیو یوه مشهوره کورنۍ ده؛ دی د ولسمشر داؤود پر مهال د ترانسپورت د رئیس, د شاه جان احمدزي د اکا زوی دئ. په ۱۹۴۱ز کال کې د حبیبیې له لیسې څخه فارغ او بیا له حربي پوهنتون څخه فارغ سوی دئ. د قبائیلو د ریاست رسمي مأمور. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۷ز کال پورې د حربي پوهنتون مشر. په ۱۹۷۸ز کال کې ستردرستیز. د ۱۹۷۸ز کال د جولای په میاشت کې د پل چرخي په زندان کې زنداني سو. د ۱۹۷۸ز کال د آګست د میاشتې په ۱۸ نېټې,له ډاکتر میر علي اکبر او نورو سره د خلقي رژیم د پرځولو د هڅې په تور اعدام سو*. په پوځي ژورنالونو کې د مقالاتو لیکوال.

### محمد اعظم ایازي

د محمد اسلم زوی، په ۱۸۷۸ز / ۱۲۵۷ل کال کې په کندهار کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۲۴ز کال کې په کندهار کې ښوونکی. د کندهار د پښتو ټولنې غړی. د کابل د پښتو ټولنې غړی. د پښتو ټولنې مرستیال رئیس. ددفاع په وزارت کې ښوونکی. د پښتو ژبې لپاره د ګڼو کتابونو لیکوال.

### دوست محمد ایماق

دی یو هراتی سوداګر دئ چې د ۱۹۴۰ او ۱۹۵۰ز لسیزو په اوږدو کې ئې د ملي بانک د بنسټ په ایښودلو او جوړولو کې مهمه ونډه لوبولې ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

## فیض الله ایماق

له اندخوی څخه دئ. په ۱۹۷۱ز کال کې د راډیو افغانستان د وزبیکي پروګرامونو ډایرکټر. په ۱۹۸۰ز کال کې ئـې د وزبیکي فولکلور لپاره یوه ټولګه یا کلکسیون چاپ کړ چې دري ژباړه ورسره ده.

## محمد یوسف آئـینـه

د محمد یعقوب معمار زوی په ۱۹۲۰ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د نجات د لیسې فارغ. له ۱۹۳۸ تر ۱۹۳۹ز کال پورې د بېلابېلا کمپنیو لپاره ژباړونکی وو. د مطبوعاتو د مدیریت مأمور. د سوداګرۍ د چارو په وزارت کې مرستیال مدیر. د ۱۹۴۹ز کال د «سالنمای اقتصادي» ناشر. په ۱۹۵۵ز کال کې د پامیر د سینما مدیر. د برګ سبز مسؤول مدیر. د کرنې د وزارت مأمور. د کلتور په وزارت کې د کتابتون او لرغونتون/ موزیم مرستیال مدیر. د انیس، د باختر خبري آژانس او راډیو کابل کارکوونکی. وروسته ئـې په مزار شریف کې ژوند وکړ. شاعر او لیکوال.

## ډاکټر عین الدین خان

د صدرالدین زوی. د کرنې په وزارت کې د « پراختیا/ توسعې» سوپروازیر. له ۱۹۵۷ – ۱۹۶۴ز کال پورې ئـې په ایران کې ورترنري لوستي او دکتورا ئـې ترلاسه کړې ده. د مرستون د خیریه ټولنې رئیس.

## عزیز احمد اکبري

(د اسدالله سروري د خور زوی او د محمد ارسلان سلیمي وردک زوم) په ۱۹۵۱ز کال کې د غزنې په ولایت کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۸ز کال کې د غزنې د البیروني په لومړني ښوونځي کې شامل سوی دئ. په ۱۹۷۲ز کال کې د نادر شهید له لیسې څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۷۳ز کال کې د پولیسو په اکاډیمۍ کې شامل سوی او په ۱۹۷۶ز کال کې فارغ سوی دئ. په ۱۹۷۷ز کال د کورنیو چارو د وزارت رسمي مأمور. په مخفي ډول سره د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د خلق په فرکسیون کې شامل سوی دئ. په ۱۹۷۷ز کال کې د تخار په ولایت کې د سرحدي چارو د افسر په توګه مقرر سوی دئ. د ۱۹۷۸ز کال د مارچ په میاشت کې د کورنیو چارو په وزارت کې د لوژیستیک افسر. د ۱۹۷۸ز کال د مې په میاشت کې د ملي امنیت د دفتر مشر. د ۱۹۷۹ز کال د آګست په میاشت کې (د تره کي له پرځـېدلو لږ وروسته) د کام KAM (کارګري اطلاعاتي مؤسسې) رئیس. د ۱۹۷۹ز کال د نوامبر د میاشتې په ۱۲ نېټې د بغداد سفیر وټاکل سو خو وئـې نـه سوای کولی د حفیظ الله امین په لاس، لاسلیک سوی اعتبار لیک وړاندې کړي. په ۱۹۸۰ز کال کې د بلغاریا په صوفیې کې د افغان سفارت سکرتر. کله چې په ۱۹۸۰ز کال کې دده ماما اسدالله سروري په منګولیا کې د نوي جوړ سوي افغان سفارت سفیر وټاکل سو، عزیز احمد اکبري ور سره د سفارت د لومړي سکرتر په توګه لاړ. په انګلیسي او اردو خبرې کوي. وادهٔ ئـې کړی دی او یو زوی لري.

## سعید/ سید علي اکبري

په ۱۹۴۶ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۶۵ز کال کې د اماني له لیسې څخه فارغ سوی دئ. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۷۰ز کال پورې ئـې د کابل په پوهنتون کې د جرمني ژبې د ادبیاتو په برخې کې تحصیل وکړ. په ۱۹۷۰ز کال کې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د اماني په ليسې کې د جرمني ژبې او ادبياتو ښوونکی. له ۱۹۷۲ تر ۱۹۷۳ز کال پورې ئې د ميونيخ د ګوټه په انستيتيوت کې تحصيل وکړ او د جرمني ژبې د ښوونکي ډيپلومه ئې تر لاسه کړه. په ۱۹۷۵ز کال کې بېرته افغانستان ته راستون سو. د ژوندانهٔ په لومړيو پړاونو کې ئې اشعار او ناولونه وليکل چې د راډيو افغانستان له لارې خپاره سول. د «ويلهلم راب»[1] «اثر» [2] او جنايي داستانونه ئې له جرمني څخه دري ژبې ته وژباړل.

## اسلم اکرم

ډ غوايي له پاڅون وروسته، د هنرمندانو د اتحاديې د رئيس لومړی مرستيال.

## شير محمد اکرم خان «صوفي صاحب» : وګورئ : شير محمد

## ډاکتر محمد اکرم

د محمد حسن زوی د ۱۹۱۶ز کال د جنورۍ د مياشتې په ۱۵ نېټې په کابل کې زېږېدلی دئ. خپلې لومړنۍ او منځنۍ زده کړې ئې په کابل کې د استقلال په ليسې کې بشپړې کړې دي. په ۱۹۳۸ز کال کې د لوړو تحصيلاتو د ترلاسه کولو لپاره فرانسې ته ولاړ او د څلورو کالو لپاره ئې د (ايکول نورميل تولوس) [3] په پوهنتون کې شامل سو. د پاريس د «تولوس» د ادبياتو له پوهنځې څخه ئې په تأريخ او جغرافيې کې د ( d'Etudes Superieur) ډيپلوم تر لاسه کړ. پروفيسري ئې « فرانسوي د باندينو لپاره » [4] په برخه کې ترلاسه کړه او په ۱۹۴۷ز کال کې ئې د تولوس د ادبياتو له پوهنځي څخه خپله دکتورا په تأريخ او جغرافيې کې تر لاسه کړه. له ۱۹۴۸ تر ۱۹۴۹ز کال پورې د کابل د دارالمعلمينو مدير. له ۱۹۴۹ تر ۱۹۶۲ز کال پورې د ثانوي تدريساتو د رياست رئيس. د حقوقو او سياسي علومو د پوهنځي د رياست سرپرست رئيس. له ۱۹۶۲ تر ۱۹۶۳ ز کال پورې په مسکو کې د افغان سفارت کلتوري اتشه. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۴ز کال پورې په ميونيخ کې له لويديځې اروپا سره د کلتوري اړيکو د دفتر مشر. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۶۷ز کال پورې د معارف مرستيال وزير. له ۱۹۶۷ تر ۱۹۶۹ز کال پورې د کابل والي. په ۱۹۶۹ز کال کې د معارف وزير. له ۱۹۷۰ تر ۱۹۷۱ز کال پورې د صدر اعظم د دفتر سلاکار. له ۱۹۷۲ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د باندنيو چارو په وزارت کې د کلتوري اړيکو د څانګې مشر. د ۱۹۷۳ز کال په سپتمبر کې په قاهره کې افغان سفير. په ۱۹۷۵ز کال کې د افغانستان د جمهوريت سفير په فرانسه کې. په ۱۹۷۸ز کال کې په پاريس، بروسل او برن کې د افغانستان د ډيموکراتيک جمهوريت سفير په ۱۹۷۹ز کال کې د ليزبون سفير، او په ۱۹۷۹ز کال کې د مادريد سفير. د ۱۹۷۵ز کال له مارچ راوروسته په يونسکو کې د افغانستان د دائمي استازيتوب د پلاوي مشر، او له ۱۹۷۷ز کال راوروسته (ګډ مارکيټ) [5] ته د افغان مأموريت مشر. د ډاکتر اکرم آثار (وګورئ : په لمنليک کې) [6] په ۱۹۷۹ز کال کې ئې له خپل ډيپلوماتيک کار څخه لاس

---

[1] -Wilhelm Raabe
[2] -Die Schwarze Galeere
[3] - Ecole Normale Toulouse
[4] -Professorship in French for Foreigners
[5] - Common Market
[6] - La Zone de Confluence Arriege – Garonne, 1942l ; La Geomorphogenie de l'Ouset Afghan, 1947; and La Bibliographie Analytique de l' Afghanistan 1947


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

واخیست او له هغـهٔ مهاله راورسته په پاریس کې ژوند کوي. د افغانستان د بیبلوگرافۍ په هکله ئې خپله نوې تازه بنه چمتو کړې ده خو تر اوسه نـهٔ ده چاپ سوې. مورنۍ ژبه ئـې دري ده.  یوه لور او درې زامن لري.*

## محمد اکرم اکرم

د ملا نیاز محمد بدخشي زوی په ۱۹۰۲ز کال کې په فیض آباد کې زېږېدلی دئ. له خپل پلار او د بدخشان د علماوو له تولني څخه ئـې زده کړې تر لاسه کړې دي. په غزل کې مشهور شاعر. په ۱۹۴۱ز کال کې د توبرکلوز له کبله وفات سو.

## جنرال محمد آصف علم

د پغمان بومي اوسـېدونکی. د حقوقو په ډګر کې تحصیلات لري. محمد داؤود د پوځي محکمې د رئیس په توګه وګومارهٔ. د «میوندوال د توطئـې» په محکمې کې ښـکېل وو. په ۱۹۷۹ز کال کې له دې چې پرچمي سمپاتي ئـې لرلې د پلچرخي په زندان کې زنداني سو. له ۱۹۸۰ز کال راوروسته ددفاع په وزارت کې لوړپوړی مقام چې د قوانینو او مقرراتو په خانګه کې کار کوي.

**نور بیا**

## محمد نور علم

په ۱۹۰۰ز کال کې په کندهار کې زېږېدلی...

قدرمنو لوستونکو! د ښاعلي رحمت آریا د آرشیف: لینک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ